UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه

UNITED NATIONS
ASSISTANCE MISSION IN
AFGHANISTAN

افغان ښځې په افغانستان کې د سولې په راوستلو کې مهم رول لري

کابل، د ۲۰۱۷ کال د مې ۱۵ مه - افغان ښځې نن له ټول هیواد څخه، د لمړۍ میرمنې په کوربه توب د کابل په ځلورم سمپوزیم "افغان ښځې، د سولې پیغام رسوونکې" کې سره را غونډې شوې تر څو په هیواد کې د سولې د راوستو په برخه کې په خپلو تجربو، لرلیدونو او وړاندې بحث او خبرې وکړي.

تدامیچي یاماموتو، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومی منشي ځانګړی استازي د سمپوزیم د پرانیستلو پر مهال ګډونوالو ته وویل: " ملګري ملتونه له افغان میرمنو سره همکاره دي او په سوله کې د ښځو د ګډون څخه ملاتړ کوي. "

یاماماتو، چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) مشر هم دی زیاته کړه: " دغه درې ورځنی سمپوزیم ستاسو لپاره تر ټولو غوره فرصت دی تر څو خپلې تجربې سره شریکې کړئ، د خپلو لیدلورو په اړه سره خبرې وکړئ او په هغه ستراتیژۍ کار وکړئ، چې ځرنګه ښځې په افغانستان کې د سولې په راوستلو کې د رهبرۍ رول ولوبوي. "

د ملګرو ملتونو استازي د نړۍ هغو تجربو ته اشاره وکړه، چې ښیي د یوې دوامداره سولې د راوستو لپاره باید ښځې له پیل څخه د سولې په بهیر کې ګډون ولري.

د هیواد د نیمایی وګړو په توګه، د افغان ښځو او نجونو پیاوړتیا ډیره اړینه ده تر څو په سیاسي او ټولنیز ژوند کې دهغوی د فعالې وندې څخه ډاډ تر لاسه او دافغانستان د بشپړې ځواکمنتیا په تحقق کې مرسته وشي. ښځې او نجونې په کور، ټولنه او هیواد کې بیلابیل رول لري چې د سولې په راوستلوکې مهم ګڼل کیږي.

د افغانستان دولت ژمن دی تر څو د ښځو شتون په دولتي ادارو کې تر ۲۰۲۰ کال پورې ۳۰ سلنه زیات کړی. هیله لرو چې افغان دولت دغه موخه ترلاسه کړي.

په افغانستان کې ملګري ملتونه د افغانستان د نړیوالو ژمنو او د افغانستان د عمل ملي پلان سره سم او د ۱۳۲۵ د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پریکړه لیک پر بنسټ د ښځو ، سولې او امنیت د پیاوړتیا په برخو کې د افغانستان دژمنو د پلي کولو له هڅو څخه ملاتړ کوي.

* * *

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ماموریت، د افغان حکومت او افغانانو ملاتړ دی او د یوه سیاسي ماموریت په توګه د نورو مهمو خدمتونو ترڅنګ د ښه نیت چارې وراندې کوي. "د ښه نیت چارې" هغه دیپلماتیک ګامونه دي، چې ملګري ملتونه یې په عام او شخصي دول د خپل استقلالیت، بې پرې توب او امانت داری د ترسیمولو لپاره پورته کوي، چې د نړیوالو شخړو د پراختیا، خپریدا اوزیاتیدا مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې له بهیرونو سره مرسته کوي؛ په وسله والو شخړو کې د ولسي وګړو د خوندیتوب په ګډون د بشري حقونو ځارنه او ملاتړ کوي؛ ښې حکومتوالی ته وده ورکوي او سیمه ییزه همکاري راجلبوي. یوناما همدارنګه د همغږي پرمختیا ملاتړ کوي، چې د نړیوالې ټولنې لخوا یې ملاتړ کیږي.